# رِسَالَةٌ مُخْتَصَرَةٌ بِعُنْوَانِ:

# «كَيْفَ أَدْخُلُ فِي الإِسْلَامِ؟»

## مُتَرْجَمَةٌ إِلَى اللُّغَةِ: البشتوية 

## « زه څرنګه اسلام کي داخل شم؟ »


إِعْدَادُ الْفَقِيرِ إِلَى عَفْوِ رَبِّهِ:

## هَيْثَم بْنِ مُحَمَّدٍ سَرْحَان

المُدرِّس بمعهد الحرم بالمسجد النَّبويِّ -سابقًا- والمُشرِف على معهد السُّنَّة

https://mahadsunnah.com/


غفر الله له ولوالديه ولمن أعانه على إخراج هذا الكتاب

**قامَ بتَرجَمَتِها: انذركل مسافر -وفَّقَهُ اللهُ وسَدَّدَهُ-**


الطَّبعة الأولى



[حقوق الطَّبع مُتاحة لكلِّ مسلمٍ بدون أيِّ تغييرٍ في المُحتوى]

# زه څرنګه اسلام کې داخل شم؟

| پوښتنه: | ځواب: |
| --- | --- |
| ایا اسلام قبولول اسانه دي؟ | هو. یقینا اسلام هیڅ واسطې ته ضرورت نلري، او نه رسم ته. |
| ایا څه جلتي وکړم اسلام ته د داخلیدو او ننوتلو؟ او که انتظار وکړم مناسب وقت ته؟ او یا انتظار وکړم چه بعضې ستونزې او مشکلات ختم کړي شي؟. | خامخا جلتي او تلوار په کار دي؛ ځکه په اسلام راوړلو کې روستوالي او ځنډوالي ستونزې او مشکلات پیداکوي، او ده مرګ پته نه لګي په هر وقت کې کیداي شي چه ته مړ شې، ا وبه اسلام کې داخلیدل او ننوتل -د رب کریم سره- یو ګټورتجارت او کاروبار دي، او څومره زر چه په دې تجارت شروع کوې هومره به ډیره ګټه کوې. |
| څوک چه غواړي چه اسلام ته داخل شي او قبول یه کړي هغه کس به څه کار کوي؟. | هغه یوازې شهادت ویلو ته ضرورت او اړتیا لري. چه دا وواېي: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»<br>ترجمه: زه ګواهي ورکوم چه بې له الله بل څوک دعبادت لائق نشته، او زه ګواهي ورکوم چه |

| پوښتنه: | ځواب: |
| --- | --- |
| | محمد صلى الله عليه وسلم دالله بنده او پيغمبر دې. |
| شـــهادت کلمه به په کومه ژبه ویل کیږي؟ | يستَطيعُ أن يقولَها بأيِّ لُغَـــةٍ يُحسِنُ النُّطقَ بها، ولا يُشتَرَطُ الإتيانُ بها باللُّغةِ العربيَّةِ.<br>پـه هره ژبـه چـه ښې خبرې کولای شي هغـه کولای شي په هغه ژبه کې دې شهادت ووايي، او دا ضروري نده چه په عربي ژبه کې دې ووايي. |
| ايا کولاي شي إنسـان چه شـهادت ووايې، او دې دهغې پـه معنى نـه پوهيږي؟ | نه؛ بلکې خامخا بايد هغه دهغې معنى ايزده کړي او ځان پرې پوهه کړي، او عقيده وساتي په هغه څه کوم چه په هغه کې موجود دې او شـــامل دې، او ده هغې په مطابق عمل وکړي. |
| ده «أَشْهَدُ» څه معنى ده؟ | معنى يې داده: چه زه په زړه کې اعتراف او اقرار کوم، او په ژبه باندې شـهادت وايم، او په خپلوا اندامونو باندې به عمل کوم. |

| پوښتنه: | ځواب: |
| --- | --- |
| ده «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ» څه معنی ده؟ | معنی يي داده: چه د الله نه سوا بل څوک مستحق دعبادت او بندګۍ نشته، يوازې هغه الله مستحق ده عبادت او بندګۍ دی نو د هغه دي بندګي وکړي شی. |
| ده «أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ» څه معنی ده؟ | معنی يه داده: چه محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده دي، دده عبادت کيداي نشی، او د الله رسول دي دروغجن کيداي نشي. |
| | او ددي شهادت ويلو سره ضروري ده داخبره چه هغه کس باور وکړي د رسول په هغه څه کي چه هغه ويلي دي، او خبر يه ورکړي دي. |
| | او په هغه څه چي هغه وربانديي امر کړي دي دهغه اطاعت وکړي، او په هغه باندي عمل وکړي. |
| | او منع کړي ځان د هغه څه نه چي هغه منع کړي دی. |
| | او دهغه د طريقو پيروي وکړي. او عمل وربانديي وکړي. |

| پوښتنه: | ځواب: |
| --- | --- |
| زه ښــه پوه شــوم، اوس باید څه وکړم؟ | زما شاته تکرار کړه!: " زه ګواهي ورکوم چه بې له الله بل څوک دعبادت لائق نشــته، او زه ګواهي ورکوم چه محمد صــلى الله عليه وســلم  دالله بنده او پيغمبر دي. |
| ايا زه اوس مسلمان يم؟ | هو، "الحمد لله " -ټوله ده كمال صفتونه خاص الله لره دي-، دا د الله فضل او احسان دي په تا باندې. |

| | |
|---|---|
| اوس وما ته ده یو مسلمان په توګه څه وصیت کوی؟ | زه وتاته وصـــیت کوم چه ته ده الله نه دعاء وغواړه: چه الله تا په خیل دین باندې ثابت کړي.<br>او ښـــه ملګري غوره کړه چه تاسره په دین کې مرسته وکړي.<br>او اســـلام زده کړه اوخیل اســـلام پټ کړه تر هغې پورې چه هغه قوي او پیاوړې شي. ان شاء الله. |
| غوره دعاء کومه دعاء ده؟ | غـــوره دعـــاء داده: ﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦﴾[الفاتحة]. اې، الله موږ ته سمه لار وښایه، أو ثابت مو کړه په هغې باندې. |
| په ذکرونو کې اســـانه ذکر کوم یو ذکر دې؟ | تر ټولو اســـانه ذکر هغه ((بســـم الله )) ویل دې، جومات او کور تـه ده ننوتلو پـه وقـت کې ویـل کیږي.<br>او ده جومات اوکور نه ده وتلو په وقت کې ویل کیږي.<br>او د قران کریم ده لوستلو په وقت ویل کیږي<br>او تشناب ته ده ننوتلو نه مخکې ویل کیږی<br>او ده جامو له ایستلو نه مخکې ویل کیږي. |

له خوراک او څکاک نه مخکې ویل کیږي. او داسې نور شیان...

| | |
|---|---|
| هغه ګناهونه چه ما ده اســـلام ده راوړلو څخه مخکې کړي دي دهغی څه حکم دي؟ | اســـلام هغه ګناهونه ختموي او له منځه یه وړي کوم چه د اسلام ده راوړلو نه مخکې شوي دي.<br>مګر د بند ګانو چه کوم حقونه دي په تا باندې، هغه باید ته خامخا اداء کړې او ده هغوي حقونه هغوی ته وروروسوې. |
| دشـــهـادت ده ویلو نـه وروسته څه وکړم؟ | باید ته غسل وکړې او ځان ومنځې. |
| زه ولې غســل وکړم او ځان ولی ومنځم؟ | **لومړي:** مســـلمان دانه وايي چه ولې وکړم؟ بلکې مســـلمان وايي موږ - دالله خبره مې- واوریده او منل أو إطاعت مې وکړه.<br>**دوهم:** ته به غســـل وکړې او ځان به ومنځې تر څو چه ســتا بهر بدن پاک شي، لکه څرنګه چه تا خپل دننه بدن پاک کړو. |

| | |
|---|---|
| ښه، زه څنګه غسل وکړم او ځان ووینځم؟ | ته به په زړه کې دغسل کولو نیت او اراد وکړې، او بیا به ته ووایه: شروع کوم په نوم د الله، او خپل ټول بدن به په اوبو ومنځې. |
| ده غسل او ټول بدن ده وینځلو نه ورسته څه وکړم؟ | کله چه د لمانځه وقت راغې ته به مونځ کوې - د الله په حکم سره -. |
| مونځ اداء کول راته ډیر سخت دی، او ستونزمن دې، ځکه په لما نځه کې داسې خبرې او کارونه شته چه زه یه ښه نه شم کولاې. | اسلام د اسانې دین دې، نه دسختې دین. الحمد لله _حمد اوثناء خاص لره ده_. |
| زه څرنګه مونځ وکړم؟ | ته باید زما سره مونځ تعقیب کړې. او یا د مونځ کلیپونه وګورې، او تاسې ته به ددی لیک په اخر کې د ((معهد السنة)) ده چینلونو لینک میلاوشې او په هغې کې به تاسې ته په ډیرو ژبو کلیپونه ویډوګانې میلاوشې چه په هغې کې د مونځ طریقه بیان شوې ده. |

| | |
|---|---|
| بیا ده لما نځه څخه روسته څه وکړم؟ | ته باید د اسلام پنځه ستني ایزده کړي چه په هغې باندې اسلام جوړ شوي دي، او بیا دایمان ستنی ایزده کړي، او داسې نور... ترهغې پوري چه پوره او بشپړ کړې ته خپل اسلام او ایمان لره. |

| | |
|---|---|
| تاسو وما ته د اسلام ایزده کولو لپاره ده کومو چینلونو او ویب پاڼو نصیحت کوئ چه زه هغه وګورم؟ | زه وتاته نصیحت کوم او مشوره درکوم چه دسعودي عربستان ده غټو علماء چینلونه او دهغوی ددعوت ویب پاڼي تعقیبه وه او ګوره یه. |
| زه د خپلو غیر مسلمانانو خپلوانو سره څرنګه چلند وکړم؟ | ته دهغوي سره داسې چلند وکړه لکه څرنګه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دغیر مسلمو سره کوو، هغه به په خپله ژبه، او خایستة اخلاقو او معاملاتو باندې غیر مسلمو ته د اسلام طرف ته رابلل او دعوت به یې ورته کو. |
| داسې کسان شته چه هغوی غواړي اسلام راوړي او قبول یه کړي، خو دا نه غواړي چه خپلی کورني ته د خپل اسلام ده قبلولو او | دا ضروري نده چه څوک اسلام قبول کړي هغه دي په خپل اسلام راوړلو باندې بل څوک خبر کړي، ځکه دهغه اسلام راوړل او اسلام قبلول دده او د الله ترمینځه خبره ده. |

| | |
|---|---|
| د راوړلو پـه اړه څـه وواېي، ددي کس څه حکم دي؟ | |
| په اســـلام کې تر ټولو غوره کتاب کوم کتاب دي؟ | په اســـلام کې تر ټولو غوره کتاب قران کریم دي ځکه چي قران کریم د الله تعالی خبري دي. |
| پـه قران کریم کې تر ټولو مهم سورت کوم یو دي؟ | قران کریم کې تر ټولو مهم ســـورت "ســـورت الفاتحه" ده. ځکه خو يي موږ ده لمانځه فه هر رکعت کې تلاوت کو، او وايو يي. |
| پـه قران کریم کې تر ټولو لوي ایت کوم یو دي؟ | په قران کریم کې تر ټولو لوي او قدرمن ایت "ایت کرسي" دي . |
| زه ځنګه وکولاي شـــم چه قران کریم وواېم او ایزده یه کړم؟ | ده شـــیخ الحذیفي او الحصرـــی ددوي قران کریم تلاوتونه واوره، او یا داسي نور قراءتونو او تلاوتونو په اوریـدو سره قران کریم ایزده کیږي، او ده قران کریم تلاوت ورسره صحیح کیږي. |
| زه به ځنګه په قران کریم باندي ځان پوهه کړم ؟ | ته کولاي شي چه په قران کریم باندي ځان پوهه کړي او دقران کریم معاني ایزده کړي، چه کله ته |

| | |
|---|---|
| | دهغه مشـــهور علماء كتابونه وګوري كوم چه هغوي په تفسير دقران كريم كې لكلي دي. |
| ده قران كريم تفســير بـه چيرته پيداكړم؟ | مدينه منوره ښار كې دقران كريم دچاپ كيدلوځاي دي هلته به لاړ شي نو بيا به تاته دقران كريم تفسير ميلاوشي. أو يا تاسو كولى شئ دا په انترنيتي لينک كې ومومئ. |
| ده قران كريم د لوســتلو نه روســته ته وما ته ده كوم شي د ويلو نصــيحــت او مشوره راكوي؟ | زه وتا ته نصـيحت كوم دقران كريم ده لوسـتلونه ورروســته د الله درســول صــلى الله عليه وســلم دصحيح احاديثو ايزده كول او مطالعه كول، او په هغې باندې عمل كول. |

ده احاديثو په كتابونو كې تر ټولو غوره كتـاب كوم يو كتاب دي؟

ده احاديثو په كتابونو كې غوره كتاب او صـــحيح كتاب هغه كتاب (صـــحيح البخاري) دی، ددې امت علماء ددې كتاب په بهتر والي او صـــحيح والي بـانـدې اتفـاق كړې دې، او ددې امـت غټو علماء دا كتاب خوښ كړې دې.

او زه تاته نصيحت كوم او مشوره دركوم چه ددې ليک او پيغام فه اخر كې ده كتابونو ډاونلوډ كيدو لينک دې هغه وګورې.

| | |
|---|---|
| د الله درسول په احاديثو کې مهم حديث کم يو دي؟ | مهم حديث د الله درسول په احاديثو کې د جبرائيل حديث دي چه په هغې کې ددين دري مراتب شرح شوي دي اسلام، ايمان، احسان. |
| زه ويريږم په دي خبره باندې چه زه به اسلام زده نه کړم؟ | مه ويريږه، بلکې په الله ځان وسپاره، الله تعالی به ستا مرسته او کومک کوي، ځکه دين اسانه دي، الله دي توفيق درکړي په هغه څه کې چه الله ورسره مينه کوي اوخوښوي يې.<br>او ته کولاي شي چه زموږ سره خپله زده کړه مفته بغير د خرچه وکړې، نو زموږ ددې ليک او پيغام په اخرکې زموږ د ( معهد السنه) لينک دي دهغې دلارې نه ته کولاي شي چه خپله زده کړه زموږ سره وکړې.<br>په اخر کې ددې ليک زه وتاته وصيت کوم د الله درسول په دې خبره، چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: هڅه وکړه دهغه څه لپاره چه وتاته ګټه رسوي، او د الله تعالی سخه مرسته وغواړه، او کمزوری او سستي مه کوه. |

# لينکونه اوچينلونه د سنت انسټيټيوټ "معهد السنة"

د معهد السنه چينل

فيسبوك لينک

تليجرام لينک

انستغرام لينک

تويتر لينک

واتساب لينک

ديوتوب چينل

د کتابونو ډاونلوډ لينک